# چاربيته – ابتدا او ارتقاء

**The Evolution of Pashto Folk Poetic Genre "CHARBAITA"**

اسماعيل ګوهر

**Abstract**: *"CHARBAITA" is one of the old popular genres of Pashto folk poetry. It is believed that, after"TAPPA" (the most popular folk poetic genre) CHARBAITA is the most popular and rich genre. In this paper the researcher investigates the very initial forms of CHARBAITA and establish a theory that Tayimini is the first poet of CHARBAITA. The paper also argues on the techniques and format of this particular genre and also shares the popular folk poet who is still remembered in the popular spheres as the poets of CHARBAITA.*

چاربيته ته ځنې پښتنو او غير پښتنو محققينو چهاربيت ليکلي دي او دا لفظي بدلون ئې په خپل دې قياس کړې دی چې چهار فارسۍ کښې څلورو ته وائي او بيت د شعر په معنٰی کښې اختستی شوی دی او دا شان د دې صنف نوم چاربيته شو. حالانکې چاربيته کښې د فارسۍ چهار نشته بلکې سم ساده چار دی چې په ګڼو اريائي او غير اريائي ژبو کښې د څلورو په معنا کښې استعماليږي. د جنوبي ايشيا په ګڼو غير اريائي ژبو کښې د دې لفظ موجودګي دا ثابتوي چې دا کم و زيات څلور زره کاله زوړ لفظ دی. چار لفظ چې په کومو غير اريائي ژبو کښې مستعمل دی د هغې تفصيل سروليم ولسن هنټر په خپل لغت "د هند او بالائي ايشيا د غير اريائي ژبو تقابلي لغت" کښې داسې کړی دی.(1)

د شمال مشرقي بنګال په کوچ ژبه کښې – چار.

د وسطي هندوستان په دريو ژبو ، راج محلي، نيکو ډي او چنتيشو کښې – چار.

بر اهل – چار

چيني سرحد او تبت – چار

د نېپـال منتشـر قبائـل لکـه دارهـي، و نـوار، کسـوار او تهـارو کښــې- چـار - د چاربیتــه مرکـب لفـظ کښـې د بیـت لفـظ ممکـن دی چـې د عربـۍ د اثراتـو نـه پـس راغلـی وي. ړومبـی کېـدی شـي چـې دا نـوم "چـار بتـي" ؤ ځکـه چـې بتـي هـم د کـلام او سـخن پـه معنـا کښـې د جنـوبي ایشـیا یـو زوړ لفـظ دی. مـونږ ته د امیـر کـروړ (139هـ) د نظـم نـه مخکښـې د پښـتو شـاعرۍ هـیڅ نمونـه پـه لاس نشـته. د دې نظـم جوړښـت، ملـي وزن، لغـات او فکـري مـواد دا ظـاهروي چـې دا د پښـتو ابتـدائي شـاعري نـۀ ده بلکـې د شـاعرۍ د ارتقـاء د یـوې مرحلـې شـاعري ده. یقینـاً چـې د اسـلامي دور نـه مخکښـې بـه هـم پـه مختلفـو ادبـي او اولسـي اصـنافو کښـې شـاعري کېـده. پـه هـره ژبـه کښـې ادبـي شـاعري او اولسـي شـاعري سـره سـره روانـې وي. مـونږ چـې د 139هــ د امیـر کـروړ د نظـم نـه واخلـه تـر 912هــ د سـلیمان مـاکو "تـذکرة الاولیـاء" کښـې د شـاعرانو د کلامونـو فنـي جوړښـت تـه ګـورو نـو د ټولـو کلامونـه، پـه مطلـع کښـې څلـور مصـرعې لـري. او وریپـې بندونـه دي او د چـاربیتې فنـي جوړښـت تـه ډېـر نـزدې دي. دا کلامونـه چـاربیتې نـۀ دي ځکـه چـې د چـاربیتې پـه اهنـګ کښـې نـۀ وئیلی کیـږي. خـو فنـي جوړښـت ئـې دې طـرف تـه اشـاره کـوي چـې پـه دغـه دور کښـې د اولسـي شـاعرۍ چـې چاربیتـه پـه کښـې یـو لـوئ صـنف ؤ، هـم فنـي جوړښـت دغسـې ؤ. بهرحـال چاربیتـه د سـاز سـره د وئیلـو یـو اولسـي صـنف دی چـې د وینـا یـو خـاص اهنـګ لـري. یـو نظـم کـه پـه فنـي جوړښـت کښـې د چـاربیتې غونـدې وي خـو چـې د چـاربیتې په اهنګ برابر نۀ وي نو هغه چاربیته نۀ ده.

چاربیتـه د ټېـې پـه شـان د پښـتو یـو داسـې قـدیم صـنف دی چـې اوس دا انـدازه لګـول اسـانه نـۀده چـې د کلـه راسـې دې صـنف پـه پښـتون تهـذیب کښـې وجـود مونـدلی دی. البتـه د جوړښـت پـه لحـاظ چـې ګـورو نـو دا انـدازه پـه اسانه لګېـدی شي چـې دا صـنف پـه پښـتونخوا کښـې د اسـلام نـه اګـاهو بـه هـم مـروج ؤ. ځکـه چـې د اسـلامي دورې د وړومبـي معلـوم شـاعر امیـر کـروړ نظـم او وریپـې د سـلیمان مـاکو د تـذکرة الاولیـاء کښـې د شـیخ بېـټن مناجـات، د ملـك یـار بابـا نظـم او د قطـب الـدین بختیـار کـاکي سـندره د

خپل جوړښت په لحاظ د چاربیتې غونډې په بندونو بندونو کښې لیکلی شوې دي. د سر مصرعې (مطلعې) هم د دریو او څلورو مصرعو دي. دې نه دا اندازه لګول ګران نهٔ دي چې که یو خوا د دې شاعرانو ادبي شاعري د څلورو څلورو مصرعو سرونه لري او ورپسې د څلورو څلورو مصرعو بندونه دي نو بل خوا په اولسي شاعرۍ کښې به هم دغه جوړښت سره او د وئیلو یو خاص اهنګ سره چاربیته هم روانه وه.

کوم ړومبی کلام چې د چاربیتې په مخصوص اهنګ کښې دی هغه د **1369**عیسوي د دور شاعر د اکبر زمینداوري یو کلام دی چې د کسر د عنوان لاندې د پښتو ادبیاتو تاریخ په دویم ټوک کښې شامل دی.

"زهٔ چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم
زهٔ د هجران د بېلتانهٔ د تورو جنګ لره ځم (2)

ځنې محققینو د تایمني (**580**هـ) مثنوي ته هم اشارې کړې دي چې دا د چاربیتې ابتدائي شکل دی د تایمني دا مثنوي چې د سلطان غیاث الدین غوري په مدح کښې ده هم د چاربیتې اهنګ لري. د دې مثنوي د سر دوه شعرونه وګورئ:

زهٔ نن غرېږم په صفت د سلطان
چې دی بادار غازي ملك د جهان
د فیروز کوه او غور رڼا له دهٔ ده
هم د تیرو تورو برېښنا له دهٔ ده

د اکبر زمینداوري نه پس کم و زیات پینځهٔ پېړۍ د چاربیتې هیڅ مکمل نمونه محفوظه نهٔ ده. البته د کال **1178**هجري یوه چاربیته چې په کال **2000** عیسوي کښې موندلی شوې او د تاریخ برخه ګرځېدلې ده. د فداګل چاربیته ده. دا چاربیته د صوابۍ یو مشر شاعر فرید ګل ته یاده وه او همایون همدرد د هغهٔ نه اورېدلې، لیکلې او په خپل لیك کښې ئې محفوظه کړې ده.(3)

فدا ګل بابا چې عامو خلقو کښې په پیدیا بابا مشهور ؤ د هزارې په مانسهره ضلع کښې په لالو ګلی نومې کلي کښې اوسیدو او هم هلته دفن دی. د دې شاعر او چاربیتې زمانه د چاربیتې په اخری بند کښې داسې بیان شوې ده:

اوولس سوه شمار که
دوه کم اتیا پرې بار که
فدا ځان دې تیار که
عصا دې لاس کښې رېږي سوچ کوه د هدیرې.

نولسمه عیسوي پېړۍ د چاربیتې د ارتقاء زمانه ده. په دې وختونو کښې د سکانو او ورپسې د انګرېزانو خلاف د جنګونو احوال په چاربیته کښې بیان شوی دی. دا قسمه چاربیتې په رومبي ځل ډار مستېټر په خپل تالیف "د پښتونخوا شعر هار و بهار" کښې خوندي کړې دي:
چاربیته تر موجوده دور پورې د اولسي شاعرۍ یو اهم او مروج صنف پاتې شوی دی خو اوس د نورو ګڼو اصنافو په مقابله کښې چاربیتې ته د شاعرانو توجه کمه شوې ده.
د چاربیتو رومبی چاپ کتاب د قدرت علي قاضي ګل دی چې په کال 1937ء کښې د "مشکل کشائے طالبان" په نوم د هزارې د ټکرۍ نومې کلي نه چاپ دی. په دې کتاب کښې رباعي، غزل، سندره او ټپه سره سره یو اتیا چاربیتې هم شاملې دي. په دې کتاب د چاپ کال درج نهٔ دی خو په یو نظم کښې د کتاب د تکمیل کال داسې بیان کړی شوی دی:

"سن نولس سوه اووۀ دېرش ؤ له پاسه
عیسوي چې مې پوره کړو دا کسب" (4)

## د چاربیتې د فن ځنې اولسي نومونه:

د چاربیتې بحر، مطلع او بند دپاره په اولسي سطح خپل نومونه مروج دي چې درې په کښې زیات مستعمل دي.

(1) **کسر**:

د چاربيتې سر يا مطلعې ته کسر وئيلى شي خو په دې کښې د محققينو اختلافي رائې هم موجود ده او ځنې د چاربيتې اخري شعر ته کسر وائي. د اکبر زمينداوري کومه چاربيته چې د پښتو ادبياتو په تاريخ کښې چاپ ده. د هغې عنوان "کسر" ليک دى. دې نه معلوميږي چې د چاربيتې د سر شعر ته کسر وائي. د پښتو اکېډمى پېښور يونيورسټۍ په يو چاپ کتاب کښې مصنفين ليکي:

"د چاربيتې د سر شعر ته کسر وائي او ځنې خلق ورته پيرو هم وائي"(5)

محترمه غوټۍ خاورې په خپل کتاب "د پښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون" کښې د بګټۍ په بحث کښې د بګټۍ د سر شعر ته کسر وائي او ليکي:

"بګټۍ د بدلو او چاربيتو په څېر کسر لري کسر ئې يو بيت وي خو بندونه ئې ډېر وي مصرعې نۀ لري" (6) .

د چاربيتې سر ته د کسر وئيلو سبب کېدى شي چې ساز سره د چاربيتې وئيلو په وخت د هر يو بند نه پس سر بيا بيا وئيلى شي او يا د سر يوه مصرعه تکراريږي. تر څو چې د سر مصرعه تکرار نۀ شي نو د چاربيتې اهنګ نۀ پوره کيږي. د اهنګ د نيمګړتيا په سبب بيا تکرارېدونکې مصرعو ته کسر وئيلى شي. کسر د عربۍ لفظ دى چې په پښتو کښې د کمي په معنو کښې استعماليږي. عربۍ کښې د شعر ناسم وزن ته کسر الشعر وائي.

ځنې خلق اخري شعر ته کسر وائي لکه درياب لغت کښې "د شعر مقطع چې شاعر په کښې خپل تخلص راولي"(7).

(2) **کور**:

د چاربيتې بحر ته کور وئيلى شي. په يو بحر کښې ليکلې شوې ټولې چاربيتې د يو کور چاربيتې بللى شي. تر اوسه چې په کومو کومو کورونو

کښې چاربيتې وئيلى شي د محمد اقبال خان (هزاره) د تحقيق تر مخه دا ټول کورونه يولس دي. (8)

(3) **کړه**:

د چاربيتې يو بند ته کړه وئيلى شي. د چاربيتې شاعران او سندرغاړي د کړه لفظ عام استعمالوي. د بند لفظ اوس هم په اولسي شاعرانو او محفلونو کښې مروج نۀ دى. په فني لحاظ د چاربيتې يو قسم ته کړه بند هم ځکه وائي چې د دې هره کړه د سر يوې مصرعې سره هم قافيه وي.

د چاربيتې وجه تسميه هم دغه ده چې د دې په هره کړه کښې به کم نه کم څلور مصرعې وي.

چاربيته په نورو همعصرو ژبو کښې هم تلې ده. په دوئ کښې اردو، پنجابي، هندکو، گوجري او پهاړي ژبې شاملې دي. سعود الحسن خان روهيله په خپل ادبي تاريخ "تاريخ رامپور" کښې د چاربيتې په حقله ليکي:

ترجمه: "د رام پور پښتنو په مقامي شاعرۍ کښې په دوه طريقو برخه واخسته. يو خو دا چې د دې سيمې په مقامي طرز ئې شاعري وکړه او دوئمه دا چې د خپل د ابائي وطن د مقامي شاعرۍ يو صنف چاربيت ته ئې په اردو کښې ځائ ورکړو". (9).

د رام پور د رياست نه علاوه د ټونک، بهوپال او روهيل کنډ په رياستونو کښې هم چاربيته ليکلې شوې ده.

د پنجابي ژبې په پوټهوهاري لهجه کښې چاربيته د يو اولسي صنف په طور موندى شي. دا لهجه د پاکستان په راولپنډۍ، جهلم، اټک، شاه پور، گجرات او ميانوالي سيمو کښې وئيلى کيږي.

هندکو ژبه کښې چاربيته ډيره ليکلې شوې ده او د چاربيتو مجموعې هم په کښې چاپ دي. **1980**ء کښې حيدر زمان حيدر د هندکو چاربيتو يو انتخاب "*هندکو چار بیتے دے رنگو رنگ ندارے*" په نوم چاپ کړى دى. د سائين غلام دين د چاربيتو مجموعه "*سوداگر اس بازار دا*" په کال **1988**ء

کښې چاپ ده. د هندکو د چاربيتې اولنی معلوم شاعر ښادي خان دی چې د هزارې د دهمتوړ د علاقې د دوتار کلي اوسېدونکی ؤ او په کال 1891ء کښې په حق رسېدلی دی. د پښتو اولسي صنف چاربيته په پهاړي ژبه کښې ليکلې شوې ده. پهاړي ژبه د ازاد کشمير سره سره په مقبوضه کشمير کښې په راجوري بهدراوه او په نورو علاقو لکه ډيره دون او هماچل پرديش کښې وئېلی کيږي.

ګوجري ادب ته هم چاربيته د پښتو نه تلې ده. ګوجري ژبه د هزارې په دنګو غريزو علاقو کښې او د کشمير په ځنې غريزه علاقو کښې وئيلی کيږي، په نورو ژبو کښې د چاربېتې د وئيلو اهنګ د مقامي حالاتو تر مخه لږ ډېر بدل شوی هم دی خو پښتو کښې چاربيته خپل خاص اهنګ سره نن هم هغه شان موجوده ده.

❖❖❖

# حوالې

(1) ولیم، ولسن، هنټر، سر، د هند او بالائي اېشیا غیر اریائي ژبو تقابلي لغت، (مترجم) شبیر حسن اختر، ملتان، سرائیکي ریسرچ سنټر، بهاؤ الدین زکریا یونیورسټي، 2003، مخ 49، 50.
(2) حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دوېم ټوک، پښتو ټولنه کابل، 1342هـ ش، مخ 175.
(3) همدرد، همایون، پښتو ادب کښې چاربیته، (مضمون ناچاپ) 2002ء.
(4) قاضي ګل، قدرت علي، مشکل کشائے طالبان، هزاره، ټکرۍ، س ن، ، مخ 7.
(5) پردل، خټک، سیف الرحمٰن سید، د پښتو اولسي شاعري، پېښور، پښتو اکېډمي، پېښور یونیورسټي، 1980، مخ 33.
(6) غوټۍ، خاورې، د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون، د علومو اکادمي د ادبیاتو او څېړنې مرکز کابل، 1988، مخ 98.
(7) قلندر مومند، او فرید صحرائي، دریاب، اېن ډبلیو اېف پي، ټیکسټ بک بورډ پېښور، 1994ء.
(8) ډیوه رېډیو، وائس اف امریکه، د ادب او موسیقۍ پروګرام، 9 بجې د شپې، 8، 15، 22، 29 جون، 2011ء.
(9) روهیله، سعود الحسن خان، تاریخ ادب رامپور، بحواله اردو کی تشکیل میں پشتونوں کا کردار، حنیف خلیل، مقتدره قومی زبان اسلام آباد، 2008ء، ص 338.